سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۲/۱۱

# د الله ج نوم

وفا کړو که جفا کړو یاد وو د الله نـوم
روا کـه نـاروا کـړو یــاد وو د الله نــوم

توبې کړو نوی نوی که زړې ماتول غواړو
سجدی کړو که ګدا کړو یاد وو د الله نوم

جومات که کلیسا که درمسال ته یو روان
کـه ذکر که ګنـاه کـړو یاد وو د الله نوم

عجبـه عقیـده ده او عجیب لړو باور
درواغ کړو که ریښتیا کړویاد وو د الله نوم

ښکاریږی راته داسی چی یو بی شرطه تسلیم
ښیرا کړو که دُعا کړو یادوو د الله نوم

الله مو دی رګو کی هم په وینومه په زړوکی
په هرڅه چی بینا کړو یاد وو د الله نوم

ذاهد یی په خلوت کی یادوی چیری په پټه
مونږ هرڅه بر الاء کړو یاد وو د الله نوم

تـوکل مـو په الله دی او تکیـه مـو په الله

چی بیـا لاره پیدا کړو یاد وو د الله نوم

که کړي مو هرڅه دی کلیواله په پرون کی

که نن که یی سبا کړو یا د وو د الله نوم

اپریل/۱۰/۲۰۰۶ تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

د الله نوم